د خلکو وېره دې ستاسو څخه هېڅوک له حق ویلو څخه منع نه کړي، کله چې هغه حق وویني او یا پرې پوه شي

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «د خلکو وېره دې ستاسو څخه هېڅوک له حق ویلو څخه منع نه کړي، کله چې هغه حق وویني او یا پرې پوه شي».

[صحیح دی] [او ابن ماجه او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو ملګرو ته خطبه وویله او له هغو سپارښتنو څخه چې خپلو ملګرو ته یې وکړې دا وه چې د خلکو وېره، او ځواک دې یو مسلمان د حق له ویلو یا پرې له امر کولو څخه منع نه کړي، کله چې حق ووینې او یا پرې پوه شي».

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66273